د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 505**

(09 - 16 مرغومی 1404 هـ ش)

## د پاکستاني علماوو وروستۍ غونډه او له افغانستان سره د اړیکو په رغولو کې یې ونډه



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د پاکستاني علماوو وروستۍ غونډه او له افغانستان سره د اړیکو په رغولو کې يې ونډه.................3
- د پاکستان په بهرني سیاست کې د علماوو ونډه.........................................................3
- د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې د علماوو ونډه.....................................................5
- د پاکستاني علماوو د وروستۍ غونډې ارزونه..............................................................6
- پایله....................................................................................................8
- وړاندیزونه..............................................................................................8
- سرچینې...............................................................................................9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د پاکستاني علماوو وروستۍ غونډه او له افغانستان سره د اړیکو په رغولو کې یې ونډه

### سریزه

دین او مذهب د پاکستان او افغانستان د اړیکو نه بېلېدونکې برخه ده. له همدې امله اړینه ده چې له افغانستان سره د پاکستان د مذهبي طبقې د اړیکو او یا هم د اړیکو د جوړېدو پر ونډو بحث وشي. د پاکستان له رامنځته کېدو سره سم دا پوښتنه راولاړه شوه چې اسلام د پاکستاني دولت په جوړښت کې څه ډول رول ولوبوي؟ د پاکستان نوی نسل او سیاسیون د دیني دولت له جوړېدو سره مخالف و، خو دیني قشر او علماو چې د پاکستان په رامنځته کېدو کې یې مهم رول اداء کړی و او د برطانوي امپراتورۍ پر ضد یې مبارزه کړې وه د هغوی نظر دا و چې یوازې شریعت باید د دولت د واکمنۍ بنسټ شي. دا بحث د وخت په تېرېدو لا پسې سخت شو او په پایله کې دین د دولت د یوې دوامدارې پالیسۍ په توګه ومنل شو، څو د پاکستان هویت د یوه اسلامي دولت په توګه تعریف شي. سره له دې چې دین د دولت مهمه برخه شوه او د دین مرکزي قوت له علماوو سره و، خو بیا هم دیني طبقه او ملایان ونه توانېدل چې د خلکو سیاسي استازیتوب وکړي، د اسلامي نظام بشپړه خاکه وړاندې کړي، د خلکو رایې ترلاسه کړي او د حکومت د چلونو په طرز پوه وي.

د پاکستان دیني طبقه سره له دې چې د کلونو راهیسې د مرکزي حکومت په رأس کې نه دي پاتې شوي، خو بیا یې هم د افغانستان په چارو کې خپل رول اداء کړی او مداخله یې کړې ده. چې ښه بېلګه یې د شوروي اتحاد خلاف د افغان جهاد په بریالیتوب کې یې ونډه ده. د ۲۰۲۵ز. کال د ډسمبر میاشتې پر ۲۲مه نېټه د دوشنبې پر ورځ پاکستان علماوو د پاکستاني امت د یووالي تر نوم لاندې مجلس دایر کړ[1] او په دې مجلس کې یې یو ځل بیا د افغانستان او پاکستان پر اړیکو بحث وکړ، د دې تحلیل موخه دا ده چې له یوې خوا د پاکستان په بهرني سیاست کې د مذهب رول وڅېړو او له بل پلوه د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې د پاکستان علماوو ونډه روښانه شي.

### د پاکستان په بهرني سیاست کې د علماوو ونډه

د پاکستان له جوړېدو مخکې نامتو مذهبي مشرانو لکه: مولانا مدني، مولانا محمد میا، مولانا سید فخرالدین احمد، مولانا عبد الحق او مولانا احمد علي سعید د مسلمانانو لپاره د جلا دولت د جوړېدو سره مخالفت وښوده او په دې اړه یې فتواوې صادرې کړې، مولانا مودودي، چې د جماعت اسلامي بنسټګر و، که څه هم د پاکستان په نوم د مسلمانانو لپاره د جلا دولت د جوړېدو مخالفت نه کاوه، خو د مسلم لیګ او د مسلمان قومپالنې له نظریې سره مخالف و. د هغه استدلال پر دې ولاړ و چې هغه ملي حکومت چې د سیکولر

یا مسلم قومپالنې پر بنسټ جوړ شي، له کیفي پلوه به د هند له استعماري حکومت څخه چندان توپیر ونه لري. د هغه په اند، قومپالنه یو پردی تصور و چې د استعمار له خوا د اسلامي نړۍ د یووالي د ماتولو لپاره راوړل شوی و.[2] خو د دې مخالفتونو سربېره مسلم لیګ وتوانېد چې د جمعیت علمای اسلام له ځینو نامتو مذهبي مشرانو او همدارنګه له مولانا اکرم خان، د مانکي شریف پیر او مولانا شبیر احمد عثماني څخه ملاتړ ترلاسه کړي، چې د مسلم لیګ د قضیې لپاره یې پراخ تبلیغ وکړ. د ۱۹۴۵ کال د اکتوبر پر ۲۶مه، پنځه سوه دیني عالمان، چې په هغوی کې ځینې پیران او مشایخ هم شامل وو، سره راټول شول او د مسلمانانو لپاره د جلا وطن د غوښتنې په ملاتړ یې یو پرېکړهلیک تصویب کړ، چې له امله یې پاکستان رامنځته شو. د پاکستان په رامنځته کېدو کې د علماوو دغه رول ته که وګورو، نو باید علماوو د پاکستان په بهرني سیاست کې هم فعاله ونډه لرلای او ځینې وخت دغه ونډه څرګنده وه لکه: د ۱۹٦۲ کال د نومبر پر ۲۹مه، په ملي اسمبلۍ کې د بهرنۍ پالیسۍ په اړه د وینا پر مهال، د جمعیت علمای اسلام (JUI) مشر مولانا مفتي محمود د لوېدیځ له خوا تمویل شویو پوځي اتحادونو او په هغې کې د پاکستان له ګډون سره یې مخالفت وکړ او د پر خپلواکه بهرنۍ پالیسۍ یې ټینګار وکړ.[3]

د پاکستان له جوړېدو وروسته، ایډیالوژیک فکتور د دې هېواد د بهرنۍ پالیسۍ په بېلابېلو اړخونو کې مهم ونډه لرونکی رول لوبولی شو، خو اساسي رول یې درلود. پاکستان له پیل څخه د اسلامي نړۍ سره د ځانګړو اړیکو د ټینګولو لپاره په یوه جدي هڅه کې بوخت و او دا ادعا یې کوله چې دا یوازینی معاصر دولت دی چې په ځانګړې توګه د اسلام په نوم جوړ شوی دی او باید چې له اسلامي نړۍ سره نږدې اړیکې ولري، خو د دې سربېره حکومت ریالیستیک چلند وکړ او د دفاعي اړتیاوو او د امنیتي چاپېریال د ننګونو د پوره کولو لپاره  یې غرب او کمونیستي هېوادونو ته مخه کړه چې د علماوو له نظریې سره په ټکر کې و او حکومت دا خبره کوله چې بهرنۍ پالیسي او دین باید سره جلا وساتل شي[4]. د وخت په تېرېدو سره په بهرني سیاست کې د علماوو رول کمزوری او د پوځ او حکومت رول غښتلی شو، خو حکومت او پوځ د خپل مشروعیت لپاره دیني طبقې ته اړتیا درلوده او د هغوی د کنټرول پر پالیسۍ یې کار وکړ او هماغه وخت راهیسې دیني طبقه حکومت نه بلکې د حکومت د خدمت وسیله شوه. کله چې حکومت له غرب سره اړیکې ټینګې کړې، نو حکومت د عامو خلکو د تصور د بدلېدو او له حکومت سره د مخالفت د نه کولو لپاره د علماوو فتوا صادره کړه او هغوی وویل چې د اسلامي حکومت د قوي کولو لپاره دا اړتیا ده چې له غرب څخه دفاعي او اقتصادي ځواک وغوښتل شي او دا له دیني اړخه کومه ستونزه نه لري. حکومت له همدغو علماوو څخه د کشمیر او فلسطین په قضیه کې هم استفاده وکړه او له همدغه علماوو څخه یې د هند په مقابل کې د ایډیالوژیکې جګړې ییزې وسیلې په توګه استفاده وکړه.

لنډه دا چې د پاکستان ملایان د دغه هېواد د بهرني سیاست په کنټرول او تنظیم کې واک نه لري.

### د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې د علماوو ونډه

د پاکستان له جوړېدو وروسته د دغه هېواد او افغانستان علماوو اړیکې رامنځته کړې او په بېلابېلو برخو کې یې له یو او بل سره همکارۍ لرلاي، دغه همکارۍ له دیني زده کړو نیولې بیا د شوروي اتحاد په مقابل کې تر عملي جهاد پورې وغزېدې. په پاکستان جمعیت علماء اسلام او جماعت اسلامي هغه مهمې ډلې دي چې له تاریخي پلوه د افغانستان له دیني طبقې سره نږدې اړیکې لري. استاد برهان الدین رباني او ګلبدین حکمتیار د جماعت اسلامي له افکارو څخه اغېزمن وو او د همدوی له لارې یې له پاکستاني حکومت سره اړیکې نیولې. پر افغانستان د شوروي اتحاد برید یوه پایله دا شوه چې ګڼ افغانان پاکستان ته کډوال شول، هلته په ښوونځیو او په ځانګړي ډول مدرسو کې په زده کړو بوخت شول چې له یو نوي فکر سره را لوی شول.

مولانا فضل الرحمن د اسلامي امارت له مهمو ملاتړ کوونکو څخه ګڼل کېږي، نوموړي په دیپلوماتیک، مالي، ستراتیژیک او عملیاتي کچه له اسلامي امارت څخه ملاتړ کاوه. واشنګټن، سعودي عربستان او د خلیج هېوادونو ته یې سفرونه وکړل او له هغو ځایونو یې د پام وړ مالي مرستې ترلاسه کړې .په پاکستان کې مدرسې او په ځانګړي ډول د مولانا فضل الرحمن مدرسې د طالبانو د رژیم د ملاتړ لپاره د ټولنې او دولتي بنسټونو له بېلابېلو اړخونو څخه د مرستو د راټولېدو مرکزونه وګرځېدل. د مولانا فضل‌الرحمن سربېره مولانا سمیع‌الحق هم له طالبانو سره نږدې اړیکې لرلې. د هغه مدرسه، دارالعلوم حقانیه، د طالبانو د مشرانو د زده کړو مهم مرکز پاتې شوی دی. له همدې امله، کله چې په ۱۹۹٦ز. کال کې اسلامي امارت پر افغانستان واکمني ترلاسه کړه، نو د پاکستان په سیاسي ډګر کې د مولانا فضل الرحمن اهمیت زیات شو. نوموړی د پاکستان په پارلمان کې د بهرنیو چارو د کمېټې د مشر په توګه وټاکل شو او حکومت غوښتل چې له افغانستان سره د اړیکو په تنظیم کې له ده څخه کار واخلي. په همدې چوکاټ کې، فضل‌الرحمن لهISI ، پوځ او جنرال نصیرالله بابر سره نږدې اړیکې ټینګې کړې. نصیرالله بابر د ذوالفقار علي بوټو او وروسته د بېنظیر بوټو د افغان چارو اصلي سلاکار و. چې له دې واضحه معلومېږي چې پاکستان د اسلامي امارت سره د اړیکو د ټینګولو او یا هم د اسلامي امارت په مقابل کې د بهرني سیاست د تنظیم په برخه کې د مولانا فضل الرحمن څخه استفاده کوله.[5]

د اسلامي امارت په تېره دوره کې مولانا فضل الرحمن څو ځلې د علماوو د هیات په مشرۍ کابل سفرونه کړي او د اسلامي امارت له مشرانو سره یې لیدلي، چې ښيي دوی له طالبانو سره مستقیمې اړیکې لرلې او په پایله کې د نړۍ لپاره د طالبانو د حکومت د بریالیتوب کیسې د رسولو یوه سرچینه وګرځېد.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د اسلامي امارت اکثریت مشران او مجاهدین په خیبرپختونخواه، بلوچستان او نورو قبایلي سیمو کې له مدرسو زده کړې ترلاسه کړي دي چې اکثریت یې جمعیت علماء اسلام چې مشري یې مولانا فضل الرحمن کوي، پورې تړلي دي.[6]

لنډه دا چې له تاریخي پلوه د مجاهدینو او د اسلامي امارت په لومړۍ او دویمه دوره کې له افغانستان سره د پاکستان د علماوو اړیکې نږدې وې او د دواړو هېوادونو د اړیکو په جوړولو او تنظیم کې یې رول درلود، خو د کمونیزم او تېر جمهوریت په دوره کې چې په حکومت کې د علماوو رول کم و، نو ځکه پاکستاني ملایان هم د اړیکو په تنظیم کې ونډه نه درلوده.

## د پاکستاني علماوو د وروستۍ غونډې ارزونه

د ۲۰۲۵ز. کال د ډسمبر میاشتې پر ۲۲مه نېټه د دوشنبې پر ورځ پاکستاني علماوو د پاکستاني امت د یووالي تر نوم لاندې په کراچۍ کې مجلس دایر کړ چې مشري یې مولانا فضل الرحمن کوله. د دې غونډې د دایرېدو ترشا یو ستر لامل ولسي فشار و، پاکستاني ولس په کل کې او د قبایلو سیمو خلک په ځانګړې ډول د دروازو د بندېدو له امله له سخت اقتصادي فشار او ستونزو سره مخامخ دي او هغوی په دې اړه خپل غږ هم اوچت کړی دی او د همدغو فشارونو د کمولو او د ولسي خلکو د قرارولو په موخه د علماوو دا غونډه راوبلل شوه، خو د غونډې ارزښت به هغه وخت لا زیات وی چې کومه اجرایي جنبه یې لرلی، دې غونډې کومه اجرایي جنبه نه لرله بلکې یوازې د وړاندیز په ډول یې د اړیکو د ښه کېدو او د لارو د خلاصېدو غوښتنه وکړه.

د دغه مجلس علماوو د دواړو ګاونډیو هېوادونو ترمنځ موجوده کړکېچ اندېښمنوونکی وباله او د شخړو د حل لپاره یې د خبرو اترو غوښتنه وکړه. د غونډې له لوري خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي چې تاریخي تجربې ښیي چې د ملتونو او هېوادونو ستونزې د دوه اړخیزو خبرو له لارې حل کېږي او په روانو شرایطو کې د مستقیمو خبرو پرته هېڅ د منلو وړ او اوږدمهاله بدیل نشته. علماوو ټینګار وکړ چې دوامداره کړکېچ به د دواړو هېوادونو خلکو ته زیان ورسوي.

په اعلامیه کې همدارنګه د پاکستاني او افغان چارواکو غوښتنه شوې چې د ټولو ننګونو د حل لپاره مثبت او عملي لارې ولټوي، څو د ګاونډیو هېوادونو عادي اړیکې بیا ورغول شي او د دواړو هېوادونو د خلکو، سفرونو او سوداګرۍ لپاره دروازې پرانېستل شي.[7]

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**دغه غونډه له څو اړخونو د ارزونې وړ ده:**

۱- د دروازو د تړل کېدو له امله په پاکستاني حکومت فشار زيات دی، ځکه حکومت يې له سخت اقتصادي ستونزو سره مخامخ دی او په داسې شرايطو کې له افغانستان سره د دروازو تړل کېدل دوی له درې سترو ستونزو سره مخامخ کړي دي: يو، دا چې له اقتصادي پلوه په دې دوه مياشتو کې ميليونونه ډالره زيان وررسېدلی، دويم، پر دوی د مرکزي اسيا لاره تړل شوې او دريیم دا چې د افغانستان مارکيټ ايراني او د مرکزي اسيا هېوادونو مالونو ته خالي شوی دی او که دا شرايط دوام وکړي، نو پاکستان به په دايمي ډول د افغانستان مارکيټ له لاسه ورکړي چې دا د پاکستان لپاره اوږدمهاله زيان دی.

پاکستان د علماوو د دې غونډې له لارې يوه سياسي او ډيپلوماتيکه هڅه وکړه تر څو د دې غونډې له لارې پر اسلامي امارت فشار راوړي او هغوی خبرو او لارو پرانېستو ته اماده کړي او دغې سياسي هڅې ته يې ديني رنګ ورکړ.

۲- بله مهمه موضوع دا ده چې پاکستان حکومت غواړي چې د اسلامي امارت سره د ديني علماوو په ژبه خبرې وکړي او لکه څنګه چې موږ مخکې وويلې د اسلامي امارت اکثره مشران او مجاهدين د پاکستان علماوو سره په اړيکه کې پاتې شوي او له تاريخي پلوه هم د اسلامي امارت په تېره دوره کې او حتی په همدې دوره کې د علماوو له کاره ځخه ګټه اخيستل شوې ده، نو دغه غونډه دا څرګندوي چې چې مذهبي طبقه لا هم د افغانستان او پاکستان په اړيکو کې رول او اغيز لري. مولانا فضل‌الرحمن د دې هڅو په سر کې دی او د دې غونډې مشري يې هم کوله چې له دې په ډاګه معلوميږي چې پاکستان د اسلامي امارت د تېرې دورې په څېر غواړي په دې دوره کې هم د اسلامي امارت سره د اړيکو د تنظيم په برخه کې له مولانا فضل الرحمن څخه ګټه واخلي.

۳- دا غونډه د پاکستان علماوو له لوري په خپلواک ډول نه ده رامنځته شوې، په پاکستان کې معمولاً د علماوو لويې غونډې او بيا په ځانګړي ډول چې سياسي جنبه ولري د حکومت، استخباراتو او پوځ د ستراتيژيکو ګټو تر سيوري لاندې ترسره کېږي او د اسلامي امارت اوسنی حکومت د قطر، ترکيې، سعودي عربستان او نورو ځايونو مذاکراتو کې له تراوسه له پوځ او حکومت سره پايلې ته نه دی رسېدلې، نو د علماوو نه خپلواکې د دې لامل کېږي چې ستونزې همداسې پاتې شي او دغه ډول غونډې بې ګټې پای ته ورسېږي.

۴- بله مهمه خبره دا ده چې دغې غونډې يوازې اعلاميې او خپلمنځي مشورې بڼه درلوده او لکه څنګه چې په اعلاميه کې راغلي دي، دوی يوازې د مذاکراتو د بيا ترسره کېدو او د اړيکو د ښه کېدو وړانديز کړی دی، که په دې غونډه کې د اسلامي امارت لوړ پوړو مشرانو او يا هم د دواړو هېوادونو علماوو برخه اخيستې وې او په اړيکو يې سره بحث کړی وی، بيا ممکن يوې پايلې ته سره رسيدلي وی، خو دا غونډه يو اړخيزه وه او د



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

بحث مرکزي او اصلي موضوع يې د دواړو هېوادونو د اړيکو رغونه نه وه، له همدې امله ويلی شو چې دغه غونډه د اړيکو په ښه کېدو کې کوم رغنده رول نه لري.

## پایله

پاکستان د اسلام په نوم رامنځته شوی او په دې برخه کې علماوو ډېر رول اداء کړی دی. سره له دې چې د پاکستان له رامنځته کېدو وروسته دين د پاکستان د حکومت بنسټيزه مرجع وګرځېده او د پاکستان د يو اسلامي دولت او يا د مسلمانانو د هېواد په نوم رامنځته شو او طبعي ده چې د يو اسلامي دولت په رامنځته کېدو سره به د هغې په واک کې تر ډېره ملايان وي ځکه هغوی د دين په اړه پوره پوهه لري او په اوايلو کې همداسې وشول، خو د وخت په تېرېدو سره په حکومتي چارو کې د علماوو رول کم او د ملکي او پوځي حکومت رول زيات شو. په اوسنيو شرايطو کې پوځ او ملکي حکومت د علماوو څخه يوازې د خپل مشروعيت او مرجعيت لپاره استفاده کوي او په نورو چارو کې ورته د مداخلې اجازه نه ورکوي، يعنې داسې ويلای شو چې له ديني طبقې څخه د حکومت د ګټو لپاره ګټه اخيستل کېږي او ښېرته پرېښودل کېږي او همدې قاعدې ته د افغانستان په اړه د پاکستان علماوو وروستۍ غونډې ته وګورو، نو بې ګټې ده او د دواړو هېوادونو د اړيکو په رغولو کې به ګټوره واقع نشي، ځکه د پوځ او ملکي حکومت ترمنځ لا تراوسه مذاکرات بريالي شوي نه دي، نو که ملايان په دې برخه کې هرڅومره د جوړ جاړي خبرې وکړي، خو چې د حکومتونو په کچه ستونزې نه وي حل شوي تر هغې د دې ډول غونډو رول ګټور نه دی.

## وړانديزونه

۱- د افغانستان او پاکستان ديني طبقه ولسي ريښه لري او نن هم عام ولس خپلې ټولې چارې له دغې ديني طبقې سره په مشوره مخکې وړي، نو د دواړو هېوادونو له ديني علماوو څخه هيله کېږي چې د دواړو لوريو د ولسونو ترمنځ د کرکې او کينې د پيداکېدو مخنيوی وکړي، ځکه دا په هيڅ ډول د دواړو هېوادونو په ګټه نه دی.

۲- پاکستاني علماوو ته وړانديز کېږي چې په خپلو راتلونکو دغه ډول غونډو کې د افغانستان پر خاوره د پاکستاني پوځ مستقيم بريد د مخنيوي غوښتنه هم وکړي، ځکه د اړيکو د خرابېدو يو ستر لامل د همدا دی.

۳- په دې سوړ ژمي کې د افغان کډوالو اجباري اخراج د هر ډول بين المللي بشري حقوقو خلاف عمل دی او ديني علماء د دغه ډول اجباري اخراج په مخنيوي کې پر حکومت فشار راوړلی شي، نو پاکستاني علماء ته وړانديز کېږي چې په دې برخه کې هم خپل رول اداء کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۴- اسلامي امارت ته وړانديز کېږي چې له پاکستاني سره د اړيکو په ښه کېدو کې له ديني علماوو ځخه ګټه واخلي، ځکه د دواړو هېوادونو علماء سره نږدې اړيکې لري او يو او بل پېژني، ځکه له حکومت سره مخامخ خبرو کومه پايله ورنکړه.

## سرچيني

[1] Ahmad Shah Erfanyar. "Pakistani Clerics Call for Resolving tensions between Afghanistan-Pakistan", Pajhwok Afghan News, 23 Dec 2025, Access link:

[2] Moten, Abdul Rashid. (2003). Revolution to Revolution. Karachi: Royal Book Company, P. 23.

[3] Pirzada, Sayyed. A. (2000). The Politics of the Jamiat Ulme –i-Islalm Pakistan: 1971, 1977. NweYork :Oxford University Press, P. 210.

[4] Alam, Mansoor, (2002). Foreign Policy and Religion. Pakistan Horizon. 55. (3). 11-16, Pp. 1-18

[5] Qamar Fatima. (2018). "Pakistan's Religious Elite and Afghanistan: Antecedents", Journal of Political Studies, Special Issue, 2018, 39:58, P. 1-20, Access link:

[6] Zahab, Mariam Abou ,& Roy, Olivier. (2002). Islamist Networks: The. Afghan Pakistan Connection, London: Hurst and company, P. 20.

[7] Ahmad Shah Erfanyar. "Pakistani Clerics Call for Resolving tensions between Afghanistan-Pakistan", Pajhwok Afghan News, 23 Dec 2025, Access link:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او برابرېدو لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000 +93780618000